مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید
۲۰۲۳/۰۷/۲۹

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه
*
*
**
***
****
********
*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

دویمه برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

لیکوال

ع .رشید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

## (۳)

## پــلرونــه او زامــــــــن

څه باندې يوه مياشت شوې وه،چې د شوروي پوځيانودغه غونډ دغزني د لرغوني ښار له دنګو اوپرتمينو منارو لړ پرجنوب باندې ځاى پرځاى شو،تردغه وخته هم لا پريکړه نه وه شوې چې دا ځاى به ديوې پياوړې قرارګاه ښه غوره کړي که نه ؟ځکه چې دلته تراوسه هم دشاوخوا سيمو حالات نورمال اوقابو نه ښکاريدل ، خو له دې سره سره دغې سيمې بيايولړ ښيګړې هم درلودې: يوه يې داوه چې له دغه ځايه د غزني ښاراوهم د سردې بند چې د مرسلې په څنګ کې پروت و، په يوه واټن کې پراته ول، بله داچې د پکتيا – غزنى دلويې خامې لارې ساتنې لپاره هم په زړه پورې وه،همدالامل وچې بيا وروسته ورو ورو په يوې پياوړې پوځې اډه باندې بدله شوه.دولتي ځواکونه هم له روسي هغوسره لاهم ملګري وو،دنادرجان او کرچکوف انډيوالي هم اوس کلکه خو لاڅه چې د زړه له کومې شوې وه ، په دې چې اوس د دوى ترمنځ هغه يولړتوپيرونه چې کله کله به رامنځ ته کيدل ګرد سره له منځه تللي وو،په عين حال کې کرچکوف ته څه دنادرخان اوڅه هم دخپلوليدوکتو له مخې اوس دامعما هم په ډاګه شوې وه چې( دوى د څه او چا لپاره دجنګ په لور روان دي ؟)،دى اوس په ډيرو شيانوپوهيده همداوه چې کله کله به ترخوله راوتل اوويل به يې :

-شوروي ځواکونه افغانستان ته دشوروي دبدنامۍ اورسوايۍ په خاطرراغلي دي،ددغه کارراتلونکي به په هيڅ ډول د دوى لپاره د ډاډ وړنه وي، داد شوروي واکمنۍ هغه تاريخي تيروتنه وه چې د شوروي تا ريخ به تل دغه تورداغ دخپل تاريخ پرمخ ديوه شرم په توګه لري ...

خودا ګردې خبرې اوس دنادرجان اوکرچګوف ترمنځ د دوى د زړونو له رازونو وې،کله به چې دوى دواړه سره يوځاى شول،تل به په همدغه باره کې ږغيدل ...په هغه ورځ چې دغونډ قوماندان اودنادر جان دکندک سياسي آمربهادرخان کتنه درلوده ، نادرجان يې خبرې ژباړلې وې،دهغو ترمنځ خبره نژدې په مرګ باندې پاى ته رسيدلې وه،د دوى دعوه پردې وه چې وړمه ورځ روسي او دولتي سرتيرو دعملياتو لپاره يو ځاى شلګراوځينونورخايوته تللي ول،کله چې کلي ته ورنژدې شول،له کلي پردوى پرله پسې ډزې کيدې، ددغو ډزو په مقابل کې روسي سرتيرو پرکلي باندې د درنو درنو توپونو ګولۍ و اورولې،ډيرلوى کلي و،زيات خلک په هغه کلي کې اوسيدل ، د پراخو او شنو کروندو په ليدويې زړه روښانيده... خو د روسانو دګوليو په غوبل کې ددغه کلي خلکو خپل هرڅه ،کورونه،کروندې اوان ماشومان له لاسه ورکړل اود دوى له لاسه يې دهغوڅو ګوليوپه بدل کې قيامت په ژوند وليد.روسي سرتيرواود عملياتو قوماندان دولتي سرتيروته پرکلي باندې دننوتواجازه نه ورکوله، کله يې چې کلى په درنودرنو ګوليه سورى سورى کړ،بياهم کلي ته لومړى دوى ننوتل ، کورونه يې تلاشي کړل،په کلى کې خوپړهغه مهال له ماشومانواوميرمنواوسپين ږيرو پرته نورڅوک نه وو پاتې.دوى چې کله دکورونو په لټولو باندې پيل وکړباید په وسلو اونورو شيانو پسې ځارو شوي واى،خودوى برعکس هڅه کوله چې نغدۍ روپۍ اوچرس وموميې اوله ځانو سره يې يوسي،همدغه خبره وه چې د کلي ددکاندارعجب ګل پردوکان باندې ورننوتل،خداى شته چې هغه خوارکي له دوى سره دکورونو په لټولو کې مرسته هم کړې وه،هغه په دي خاطرخو دده له دکانه دده شيان ترى چورنه کړي ...کله چي روسي پوځيان دده دکان ته ورننوتل، دهغه په پلټلو يې پيل وکړ.دى پوه شوچې روسانو دده ډنګ ډيوال دکان ته هم سترګې نيولې اوغواړي چې اولجه اوغلا ترې وکړي،ده ته په هم شيبه کې ورياده شوه چې :

- د ژمي په تودوخه اود دښمن پرخندا بايد څوک تيرنه وزي ...

دده له دخله يې پورپنځلس زره روپۍ راويستې،کله يې چې خپلې روپۍ د شوروي په لاس کې وليدې،پرې ورټوپ يې که هغه که هرڅومره ورته وويل :

- بخشش ... بخشش ... براى ما ... براى ما ...

خو ده يې له لاسه کش کړې،روسانو که هرڅومره هيله ترې وکړه،چې ورېې کړي،خوده ورسره نه منله... خپله لاسونه يې کلک پرخپلو پيسو باندې نيولي وو،... مازديګر لوړوچې دهغه لاسونه دهغه په خپله پګړۍ وروتړل اوله کلي يې د بسمچي په نامه له پنځلسو زروسره يوځاى روان کړ،دماشومانواوميرمنې چغې يې يوازې له خدايه پرته بل چا نه اوريدې ...

هغه يې له کلي ويوست ،ګردوکليوالو وړو او زړو يې ننداره کوله،کوم کليوال چې لړ دلاس اوپښو وو،هغوى ټول له کلي وتلي وو،هغوى چې دلته وو،هغوى زياتره زاړه وو،په هغوى کې به هم يوه يوه لا داخبره هم کوله چې :

ـ خداى دحقي لارې مل دى،زموږ کورونه خويې ښه ګوته په ګوته ورښودل،دايې سزا،ده دلړم د يارانې نه وو اوريدلي،ښه شوه چې ويې ليده ...

عجب ګل يې له کلي زيات لري لري نه وبيولى،چې له جيبه يې پيسي راويستې، په دې خاطر چې له هغو څوکسانو نورپرې خبرنه شي، نويې دبرچو څوکو ته واچاوه ، اوپرهغو يې سورى سورى کړ...هلته يې له کلي لږ لرې ترخاورولاندې واچاوه ځکه دوى فکرکاوه چې هغه نوره ساه ورکړې اومړدى،دوى ترې لاړل...کله چې دولتي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

سرتیروته اجازه ورکړه شوه، هغوی پرهمدغه لاره تیریدل، ویې لیده چې هغه ترسپیره خاورو لاندې د ځنګندن وروستی سلګۍ وهي،پرخاورو باندې یوې اوبلې خوا ته دردونه خوری اوراخوري... لایې په بدن کې ساه چلیده چې په دولتي سرتیرو یې سترګو ولګیدې،په سترګوکې داوښکو نامرادې غوټې کرارکرارمړاوې کیدې،خوله دې سره سره یې هم له په ماتو الفاظوکې ترخوله راوووتل :
- روسانو ...غلو... پیسي ... پنځلس ....
لومړی خودوی ته دومره زیاته پته نه لګیده خووروسته جګړن عبدالله خبره روښانه کړه،هغه اصله خبره کلیوالو هم کړې وه، بیا یې همدغه روسي ډله هم ځارلې وه،له هغوی سره یې دعجب ګل ماما پیسي موندلي وې،خوهغه خوارکې هغه روپۍ چې ژوند یې پرې بایلود نورې هغه پیسي په لاس کې ونه نیولي،هغه روپۍ چې په یوعالم ستونزو یې درشیدانو په هغه لرې سیمه بیزدکان کې دچا په خبره په ګوره او ګازره موندلي وې،همدغه خبره وه چې د نادرجان دکندک سیاسي آمراودکرچکوف دقوماندان خبرې نژدې د دوی دواړوترمنځ په وژنه پای ته رسیدلي وې... بهادرخان پرهمدغه خبره زوراچاوه اوویل یې :
- سرتیري موغله دي،دخلکو پرشتواومالونوباندې وربلوسي، لوتې یې چې داکار زموږ خلک کله هم نه شي منلی اونه به یې وزغمي، تاسې باید موږ اوزموږ خلک وپیژنی ...
خوروسی قوماندان بیا په خپله خبره ولاړ و :
- موږ خپله پوهیږو چې څه باید وکړو،تاسې ځان ډیرمه سرشکوئ، څه چې موږ وایو،څه چې موږکووهغه سم دي،هغه باید وشي ...
نادرجان همدغه کیسه په همدغه شان کرچکوف ته وکړه، په عین حال کې یې دا پوښتنه هم ترې کړې وه چې د قوماندان ددغې خبرې مانا چې « موږ خپله پوهیږو چې څه باید وکړو » څه ده ...
هغه سپین ږرې روسی و،بې له ځنډه یې داخبره په ځواب کې ورغبرګه کړه :
- پوهیدل،موهیدل نشته، دوی یوازې پردې پوهیږي چې څنګه بې ګناه افغانان ووژني اویاهم څنګه بی ګناه معصوم روسي پوځیان نیمه خوا شي ...هو، د دوی ټوله پوهه همدغه ده اوبس،دی خو لاڅه کوې ،که زموږ واکمني پوهیدای نو بیا به یې خپل ځوانان افغانستان ته نه رالیږل اودلته به یې داورپه تبی نه کینول...ته پوهیږې چې یوازې په پرونی جګړه کې شل تنه روسي سرتیري اودوه تورنان وژل شوي دي ،دوی باید دغې پوښتي ته ځواب ورکړی وای چې زموږ دغه دګل په شان ځوانان دلته د څه او چا په خاطر وژل کیږي ؟

«««

له عملیاتو دوې ورځې وروسته په غونډ کې د یوې په زړه پورې خوښئ انګازې پورته شوې، دهرکندک او ټولي پرسرښکلي ځراغونه اوپه ښکلو ټوکرانو باندې پسولل شوي شعارونه په روسي اوخال خال په پښتو او درې ژبو باندې ځوړند شول ، دوی درې ډلې ډمان اوښکلي ښکلي سندرغاړي اونڅاګرې هم ان له شوروي راورسیدې،ا صله خبره چا ته نه وه معلومه،خو دوې ورځې دمخه دغونډ سرتیرو ته خدای ورکړې وه، د شپې او ورځې به دوی وو او د نڅاګرو نجونې نڅاوې او سندرې... دنادرجان لپاره هم په دغو ورځوکې ډیره اړتیا وه ، ځکه چې په روسي ژبه پوهیده، دنورو افغانانو په پرتله ده ته کله ناکلکه یوڅه زیات ترخه او تاوده رسیدل،نورو به یوازې د ساده قروانی په مستي سره هرماښام د سپینو لیچو،سرو اننګواوخرمایې زلفو،نیم لوڅونجونو دناز کواندامونونداره کوله، داسې به په کې ډوب ول چې د نازکو اومستونڅاګرودهرنازک خوځون سلسله به نه ترې خطاکیده ... په دریم ماښام نادرجان اوکرچکوف سره یو ځای شوي ول،بیا یې یوه اوبل ته دخپلو تبصرواود زړه د دردونه کوځې پرانستي وې،کرچکوف به هروخت اوهرځای کې هرڅه ته مخکې تردې چې خوند ترې واخلي،مثبت یې وارزوې دهغه انتقادي اړخ ته ګوري ... همداوه چې د کرچکوف پر تروه تنده باندې دغوټولوروسي سندرواو نڅاوو بیاهم څه اغیزه نه وه کړې ...هغه خپلو واکمناناتو ډیربدبین انسان و،په دغو ورځوکې خوهرچا له ده سره خبرې هم نه شوای کولای،ځکه دی دتیرې اوونی وژنو ډیر ځورولی و،په هغه مهال چې دوی دواړه سره یوځای شوي ول، نادرجان ته یې داخبره کړې وه ...
- فکر دې دی چې زموږ روسان غواړي، »تر په پر » پټ کړي، غواړي دهغو شلوتنو سرتیرواودوو روسي تورنانو دمرګ غمیزه په دغو سازونو،نڅاوو او...سره زموږ او نورو سرتیرو له یاده وباسي ...دا زموږدمرګ سازونه دي، داهغه سازونه دي چې دهغورنګین محفلونه زموږدوینو بوې کوې، داهغه سازونه دي، چې ستاسې پر بی ګناه خلکوموږومستوي،څودهغوی بی ګناه وینې نورې هم په بې ګناهی سره تویې کړو،انسان څومره حریص دی،څومره تنګ نظره دې چې یوازې د ځانې پرتم او حرص په خاطردهرډول نظام ترسیوري لاندې بیاهم تیرې کوې، بیاهم خپل هم نوع وژني اوهم هغه دهابیل اوقابیل دود له یاده نه باسي...اوداهغه سازونه دې چې په ویرژلوانګازوکې به یې زموږ جنازې دمسکود سره ډګرله پاسه په سرو نامرادو ډولیوکې تیریږي اوزموږ دکرملین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

روسي سرکوزي به سترګي پرې پټوي اوزموږ  دځوانيو بيه به يوازې دانترناسيوناليزم ترسيلي لاندې ديوې لويې غولوني پرتم وي ...د تيرې اوونۍ وژنې او ددې اوونې سندرې او نڅاوې ... ؟؟؟
ددغو خوښيواوخوشاليو په جوړيدو له کرچکوف او نادرجانه پرته ډيرلږ کسان پوه شول،دغونډ په شاوخوا چې دافغاني پوستوسرتيري ديره وو،هغوی به هم له يوه بل سره په ناخبرۍ کې دا سره ويل :
ـ دانيکمرغه خلک دي،د دوی ګرد ژوند همداسې له خوښيواوخوشاليو سره مل دې ...
خود خوښيو په اړه اصلي خبره هم هغه د شلوتنو سرتيرواو دوو تنو تورنانومرګ و . د شوروي د پوځ لوړو چارواکو فکرکاوه چې دا ډول مرګونه د دوی د پوځيانو پر روحيه باندې بده اغيزه کوي،همداوه چې د دوی د مورال د پياوړتيا په خاطر يې دا دومره ورځې اوشپې دانوي  جوړشوی غونډ دسندرو په انګازو پرسراخيستی و...  همدغه شپې وې چې کرچکوف نادرجان ته په هغوکې داخبره ور ياده کړې وه :
ـ دا دريمه ورځ ده چې د شوروي دنامتو پوهاند سخاروف محاکمه په شوروي کې روانه ده ...
دنادرجان لپاره د سخا روف خيره څه نا آشنا خيره نه وه،دغه ستر انسان د افغانستان ګردو خلکو په ښه توګه پيژانده، دی وچې څوڅو وارې يې په شوروي کې د بشری آزادۍ د پلوي په توګه ټکول شوی و، دی وچې په شوروي کې د سولې آزادې اوربښتينې دموکراسۍ تلپاتې مجسمه يادیده .په افغانستان يې دهغو شوروي سرتيروا فسرانود نارامو زړونو په تل کې ځای نيولی و، چې اوس دلته دافغانستان په غرو اورغواودغو تنګو تنګوخوسرلوړودرو کې له ا فغانانو سره جنګيدل او وژل کيدل،ده پرهغه مهال چې دغه پوځيان دغه هيواد ته را واستول شول،خپل آوازد دغو ځوانانو په اړه پورته کړاو ويې ويل :
ـ په دغه شرموونکي عمل ډيرخواشينی شوم،شوروي واکمنۍ بايد زموږدخلکو زامن افغانستان ته نه وای استولی، دوی حق نه درلود چې په هغه هيواد کې د امين پرقانوني حکومت يرغل وکړي... ځکه  چې شوروی عمل يويرغل دی اوپرافغانانو باندې تيری اوله هغوی سره تاريخي ظلم ... هو، زموږ بچيان بايد هلته نه وای استول شوي،ځکه دا زموږ هغه نسل دی، هغه نازولي بچيان دي چې پلرونه يې د دويمې نړيوالي جګړې تورتم نيمخوا له منځه يووړل اودغه زلمي زامن به يې د افغانستان دخونړۍ جګړې له لمبوڅخه بيرته ژوندي راستانه نه شي   !

پاتې لري...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ